# شریعت

ورځپانه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۸۱ گڼه / سه شنبه ۲۵ شوال‌المکرم ۱٤٤٤ هـ.ق / ۲٦ ثور ۱٤۰۲ هـ.ش / ۱٦ مى ۲۰۲۳ میلادي




مولوی دین محمد حنیف:

## از میان ۲۰ کشور داوطلب در معادن غور، به شرکت داخلی اولویت داده شد

سرپرســـت وزارت اقتصاد دیروز در نشســـتی گفت که با وجود انجماد ذخایر ارزی کشور و مشکلات متعدد مالی؛ امارت اسلامی مالیه و تکـــس را افزایش نداده و بـــه فیصدی زمان جمهوریت ثابت نگهداشته است. او همچنین تاکید کرد که پالیسی امارت اسلامی حمایت از شرکت‌های داخلی است.

به گـــزارش «آوا»، مولوی دین محمد حنیف، سرپرســـت وزارت اقتصاد، روز دوشنبه (۲۵ ثور) در نشست اعلام ص۵

## معافیت یکساله مکاتب، پوهنتون‌های خصوصی و سکتور زراعت از پرداخت مالیات



مقام‌هـــای امـــارت اســـلامی می‌گویند که بـــر بنیاد هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله، کمیته‌ی برای حل مشـــکلات مالیاتی تاجـــران، صنعت‌کاران، منســـوبین معارف، پوهنتون‌ها و بخش خصوصی ایجاد شده است.به گزارش «آوا»، مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری رئیس الوزراء روز گذشـــته در نشست اعلام «ایجاد تسهیلات لازم در موضوعات مهم مالیاتی به هدف رشد ص۵

## د هېواد په څلورو زونونو کې کرنیز کمپلکسونه جوړېږي

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مرســـتیال د مفیـــد نړيـــوال لوژســـتیکی شـــرکت د ځمکنیـــو ترانســـپورتي خدمتونو د پیل په مناســـبت جوړې شوې غونـــډې تـــه ویلي چـــې کرنې وزارت پـــه پام کـــې لري، چې د افغانســـتان په څلورو زونونو کې لـــوی کرنیـــز کمپلکســـونه جوړ کړي. نومـــوړي دغـــه راز ویلـــي چې دمګرۍ د هېواد په لســـو شمالي ولایتونـــو کې له ملخانو ســـره د مبارزې ســـتر کمپایـــن پیل کړی دی.




## د خصوصي سکتور د ودې او ملاتړ په موخه مالیه کې کموالی راغلی

٤ مخ

سرپرست وزارت صنعت و تجارت:

## کاغذپرانی در ادارات دولتی کاملاً محو می‌شود

سرپرســـت وزارت صنعت و تجـــارت دیروز در نشســـتی گفـــت که قوانیـــن غربی در ادارات دولتی به نفع کشـــور و مردم افغانســـتان نیست و همچنین قابل تطبیق نمی‌باشد. آنان پیشـــرفت کشـــور را با تجـــارت و صنعـــت همراه دانسته و از تاجران خواستند، تا از خارج به کشور برگردند و در قسمت سرمایه‌گذاری در بخش‌های مختلف ص۵



ایراني چارواکي:

## د خوړو او درملو ملي اداري سره هرراز همکارۍ ته چمتو یو



د افغانستان د خوړو او درملو ملي اداري سرپرســـت ډاکټر عبدالباري عمر او مل پـــلاوي ایران ته د خپل رسمي ســـفر په لړ کې د یاد هېواد د عامې روغتیا وزارت له مرســـتیال او د بیـــن المللي اریکـــو له رئیس محمد حسین نیکنام سره وکتل. د یـــادې اداري له لوري په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي ۵مخ

د اطلاعاتو او کلتور وزیر:

## کلتوري مسایل باید له سیاسي مسایلو سره ونه تړل شي

د اطلاعاتـــو او کلتور سرپرســـت وزیـــر د آغاخان کلتوري خدمتونو د ځانګې له مشـــر، د یونسـکو د فرهنګي اداري پخواني ۵ مخ



## والی هرات خواستار استخراج معادن و تطبیق پروژه‌ها در آن ولایت شد

شـــیخ الحدیث مولانا نـــور احمد اســـلام، جار والی هرات، همراه با والیان غور و بادغیس در ســـفر شان به کابل، با مـــلا برادر آخند، معاون اقتصادی ریاســـت الوزراء، شـــیخ شـــهاب الدین دلاور، سرپرســـت وزارت معـــادن و پطرولیـــم و سرپرست وزارت فواید عامه دیدار کردند.شـــیخ اســـلام جار در این دیدارها، بر اســـتخراج معدن مس لعل و سرجنگل هرات تأکید کرد و افزود که شرکت‌ها در قبال به قرارداد گرفتـــن معادن، باید، شـــاهراه‌های هرات–غور و هرات– مزار شـــریف را بازســـازی نماینـــد.وی همچنان بر آغاز پروژه ســـمنت هـــرات نیز تأکید کرد.والـــی هرات همچنان با سرپرست وزارت ص۵

مولوي‌عتیق الله عزیزي:

## د کابل سیند ښکلا او حفاظت ته دې پاملرنه وشي

د اطلاعاتو او کلتور وزارت د هنر او کلتور معین مولوي‌عتیق الله عزیزي په مشـــرۍ د تاریخي ابداتو او عامه ســـاحو د ښارني او ســـاتنې کمېټې ناسته ترسره شوه. په دغه غونډه کې د کابل ښـــاروالۍ کلتـــوري رئیس، د آغاخان بنســـټ د کلتوري خدمتونو، د کور او ښـــار جوړنـــې وزارت، چاپیریال ســـاتنې اداري او د تاریخي ۵ مخ

## تلاش‌های شبانه روزی شاروالی کابل برای زیباسازی شهری



مسوولین شـــاروالی کابل می‌گویند که این اداره زحمات شـــبانه روزی برای زیبا ســـازی شـــهر کابل انجام می‌دهد و مردم باید با این اداره برای جلوگیری از تخریب زیرساخت‌ها همکار باشـــند.نعمت الله بارکزی، ســـخنگوی شـــاروالی کابـــل در مصاحبـــه بـــا آوا گفته اســـت: که شاروالی کابل زحمات شبانه روزی برای زیبا سازی شهر ص۵

## د بغلان د برېښنايي تولید درېیم توربین جوړ شو

د بغلان د برېښـــنا ریاست مسوولین وایي، چې د افغانستان برېښنا شرکت په پرله‌پسې هڅو د بغلان برېښنا ځایي تخنیکي ټیمونو د تولید فابریکې درېیم توربین جوړ او ازمایښـــتي فعالیت ته چمتو شو. ۵ مخ



## افزایش سی و چهار درصدی عواید هرات برشنا

عواید هرات برشنا، سی وچهار درصد نسبت به سال پار، افزایش یافته است. ملا محمد انصـــاری معاون تجارتی ولایت هرات برشنا می گوید که این اداره در ســـال ۱۴۰۱ در پهلـــوی این عواید، ۵ فیصد تزیید عواید نســـبت به هدف تعیین شده مرکز به هرات را جمع آوری نمـــوده اند.آقای انصاری می گوید که رونـــد تبدیلی میترهای انالوگ به دیجیتال نیز ادامه دارد.معاون تجارتی هرات برشنا می‌افزاید که در قسمت توسعه پروژه‌های برشنا سال گذشـــته لین پنجم شهرک صنعتی به خاطر کمبـــودی برق افتتاح گردیده و نیازمندی‌ها بر طرف شده است.ملا انصاری علاوه می‌کند ص۵

## غزني کې د اوبو بند جوړولو چارې پیل شوې



د غزنـــي ولایـــت د جاغـــوري ولســـوالۍ د زیرک پـــه کلي کې د یوه منځني بند پروژې چارې د ۱۸ میلیونه افغانیو په ارزښـــت د غزني ســـیندیزې فرعي حوزې تخنیکي سلاکار انجنیر محمد نذیر سهار، د جاغوري ولسوال، امنیه قومندان او یو شمېر مشرانو ۵مخ

سرمقاله

## افغانستان د ځان بسیاینې په لور

د افغانســـتان حکومـــت چـــې پـــه مســـتقیم ډول د نړیوالـــو اشـــغالگرو په اشـــغال کې و او یا هم د بهرنیو استعمارچیانو د اجنټانـــو لخوا اداره کېـــده د تېرو څلورو لســـیزو په لړ کې د مؤمنـــو او مېړنیـــو افغانانـــو د بې دریغه او لامثالـــه قربانیو پـــه پایله کې د شرقي او غربي ښـــکیلاکگرو ناولـــې هیلې له خاورو سره خاورې کړې او افغانســـتان یې د هغوی له پلیتو قدمونو وژغوره او واک د ملت او هېواد رښـــتینو بچیانو لاس ته ورغی، بې له شـــکه د شـــکر ځای دی له هغې ورځې چې په افغانســـتان کې اسلامي امارت واکمن شـــوی د هېواد په رغونه د ســـړکونو په جوړونه، د تجارت او سوداگرۍ په وده، زراعت په غوړېدا، له پارکونو د تاو شـــویو کټارو په رنگولو، له کابل ســـیند او ولایتونو څخه په نشـــه یـــي توکو روږدو په راټولونـــه او درملنه، د څلورو لارو پـــه نوې بڼه رغونه بوخت دي.د قوشـــتیپې کانال چـــې له دریو ولایتونـــو بلخ، فاریاب اوجوزجانه تیرېـــږي او ۲۸۰ کیلو متره اوږدوالی لري چې د یـــادو ولایتونو زراعتي ځمکې به ترې په منظم ډول خړوبېږي دغـــه کانال چې ۱۰۰ مـــتره عرض لري د هېـــواد په کچه یو ســـترکانال گڼل کېږي،د مرحوم محمـــداوود خان پنځه کلن پلان کې شـــامل کارونه یې ښـــه په درز روان کړي،چې دا د افغـــان ملت او زموږ د هیواد لپاره یوه ښـــه زری او نیک پال بولم.همدارنگه اسلامي امارت په دې توانېدلی،چې له خپلو عوایـــدو د هېواد بودیجه وټاکي چې دا گام د بهرنیو هېوادونو پرته ناشـــونی و، د خپل ملت او هېواد لپاره ۲مخ

# د خصوصي سکتور د ودې او ملاتړ په موخه مالیه کې کموالی راغلی




د اسلامي امارت د مشرتابه لـه لـوري د خصوصـي سـکتور د ودې او ملاتـړ پـه موخـه پـه مهمـو مالياتـي موضوعاتـو کـې آسـانتياوي رامنځتـه شـوې.

د عاليقـدر اميرالمؤمنيـن حفظـه اللـه د ۳۰۲۹ ګڼـې او( ۱۴۴۴/۸/۲۵ ) نېټې ځانګـړي حکـم پـر بنسـټ د رياسـت الـوزراء د اداري مرسـتيال مولـوي عبدالسـلام حنفـي پـه مشـرى، د معاشـاتو او تشـکيلاتو کمېسـيون د غـړو ترڅنـګ د مشـرتابه مقـام اسـتازي مولـوي احمـد جـان بـلال، د صنعـت او سـوداګرۍ وزارت سرپرسـت، د اقتصـادي کمېسـيون اسـتازي، د ماليـې وزارت مرسـتيال او اړونـدو رياسـتونو مسـئولينو او د خصوصـي سـکتور د بېلابېلـو برخـو اسـتازو پرلـه پسـې کاري غونـډې وکـړې.

پـه دې غونـډو کـې پـر مالياتـي اصولـو بانـدې هـر اړخيـز بحثونـه وشـول، چـې د اړتيـا پـر اسـاس د خصوصـي سـکتور د بېلابېلـو صنفونـو او ټولنـو اسـتازي هـم پـه اختصاصـي مجلسـونو کـې و پوښـتل شـول او پـه پايلـه کـې د توظيـف شـوي هيئـت لـه لـوري د ماليـې وزارت او خصوصـي سـکټور ترمنـځ مالياتـي سـتونزې مشـخصې، حـلارې ورتـه پيـدا او د مشـرتابه عالـي مقـام تـه وړانـدې شـوې.

د مشـرتابه عالـي مقـام د خصوصـي سـکټور د ملاتـړ او ودې پـه موخـه وړانـدې شـوي وړانديزونـه د (۳۷۵۸) ګڼـې او (۱۴۴۴/۱۰/۲۳ هــ ق) نېټـې حکـم پـه وسيله پـه لانـدې ډول تائيـد کـړل:

۱- د صنعتـي سـکټور د ودې او پراختيـا لپـاره د دې سـکټور (۴سـلنه) ربعـواره انتفاعـي ماليـه (۲سـلنه) تـه راټيټـه شـوه.

۲- د صنعـت د ملاتـړ او ودې پـه موخـه کرنيـز، صنعتـي او سـوداګريزو سـکټورونو تـه (۷سـلنه) قـراردادي موضوعـي ماليـه معـاف شـوه.

۳- د خصوصـي پوهنتونونـو، مدارسـو او ښـوونځيو لپـاره ( ۴سـلنه) انتفاعـي ربعـواره ماليـه د يـو کال (۱۴۰۲ مالـي کال) لپـاره معـاف شـوه.

۴-ټـول هغـه بنسـټونه (لـه بانکونـو، مخابراتـي او ټکنالـوژي، امنيتـي، هوايـي، خدماتـي، دولتـي تصديـو او شـرکتونو پرتـه) چـې د مالياتـي اصولـو لـه مخـې د بررسـۍ وړ دي، هغـوی تـه اختيـار ورکـړل شـو، چـې کـه څـوک د فروشـاتو لـه سـرجمعه ۰،۵ سـلنه د امـارت حسـاب تـه جمـع کـوي او کـه کـوم نهـاد يـا بنسـټ پـه دې نـورم بانـدې راضـي نـه وي، نـو بيـا دې پـه عـادي ډول خپلـه بررسـي وکـړي (پـه دې پرېکـړه کـې بـه لـه فتحـې مخکـې ټولـي د بررسـۍ وړ دوسـيې د اظهارنامـې د وړانـدې کولـو لـه نېټـې څخـه تـر ۵ کلونـو پـورې د اعتبـار وړ وي).

۵- د ماليـې وزارت بـه د ۹ مياشـتو پـه جريـان کـې د ۵ کلونـو د بررسـي مـوده، يـو کال تـه راټيټـوي.

۶- د ماليـې وزارت داخلـي تفتيـش او د تفتيـش عالـي اداره دې پـر شـرکتونو بېـرون نويسـي نـه کـوي، بلکـې د اداراتـو اجـراآت دې بررسـي کـړي، د نيمګړتيـا پـه صـورت کـې دې اداراتـو تـه اصلاحـي لارښـووني وکـړي.

۷- د ماليـې وزارت مؤظـف دی، ترڅـو هغـه دوسـيې چـې لـه ولايتونـو مرکـز تـه را انتقـال شـوي وې، پـه مرکـز کـې د مخکينيـو حسـابونو لـه تصفيـه کېـدو وروسـته دې بېرتـه خپلـو ولايتونـو تـه انتقـال او د يـو خـاص مېکانيـزم پـه وسيله بررسـي کـړي.

۸- د تېلـو او ګازو د پمـپ سټېشـنونو اړونـد د پخوانـۍ اداري د وخـت بررسـۍ معـاف شـوه او يـاد سـکټور بـه د نـورو کلونـو لپـاره (۶،۰) افغانـۍ فـي لېټـر ثابتـه ماليـه د اسـلامي امـارت حسـاب تـه ورکـوي.

۹- سـوداګرو او صنعـت کارانـو تـه دې د مرکـز پـه څېـر پـه هـر زون کـې د پاسـپورټونو د توزيـع سـهولتونه برابـر شـي.

۱۰- د بهرنيـو چـارو او سـوداګرۍ او صنعـت وزارتونـه مؤظـف دي، چـې د سـوداګرو او صنعتګـرو د ويـزو اخيسـتلو سـتونزه د ټولـو اړونـدو هېوادونـو لـه سـفيرانو سـره شـريکه کـړي او پـه پايلـه کـې د سـوداګرو او صنعتګـرو د ويـزو سـتونزه حـل کـړي.

۱۱- د بانکونـو د موجـوده حالـت پـه نظـر کـې نيولـو سـره دې د پيسـو پـه اجـراء کولـو کـې تدريجـي اقـدام وشـي.

۱۲- د صرافانـو د مالياتـو پـه اړه د ماليـې وزارت لخـوا لـه صرافانـو سـره وروسـتۍ پرېکـړه تائيـد ده او لـه دې وروسـته دې ماليـه د اظهارنامـې پـه وسيله ورکـړي. (توافـق دا وو، چـې د ۱۴۰۱ مالـي کال وروسـته او د ۱۴۰۲ مالـي کال لـه پيلـه بـه ټـول صرافـان ماليـه د اظهارنامـې پـه وسيله ورکـوي).

۱۳-زاړه جوازونـه چـې پخـوا صـادر شـوي او کلونـه کېـږي تمديـد شـوي نـه دي، د مشـخص کېـدو لپـاره دې يـوه ګـډه کاري کمېټـه جـوړه او بيـا د دغـو جوازونـو د لغـوه کېـدو لپـاره دې د ماليـې او سـوداګرۍ او صنعـت وزارتونـو د مطبوعاتـي کنفرانـس لـه لارې د دې شـرکتونو مسـؤلينو تـه وخـت ورکـړل شـي، چـې د ټاکلـي وخـت تـر پـوره کېـدو مخکـې خپـل مسـؤليتونه خـلاص او يـا دې هـم خپـل غيرفعـال شـرکتونه فعـال کـړي، د وخـت د پـوره کېـدو پـه صـورت کـې بـه بيـا دواړه وزارتونـه د لغـوه کېـدو تصميـم نيسـي.

۱۴- د سـوداګرو او صنعتکارانـو د اسـانتيا لپـاره ټولـې اړونـدې امارتـي اداري مکلفـې دي، ترڅـو پـه ټولـو بندرونـو کـې د اسـان خدمـت يـا واحـد چتـر مرکزونـه فعالـه کـړي او کاري وخـت يـې د ګمرکونـو د کاري وخـت تابـع وګرځـوي.

۱۵- د ماليـې وزارت او د خصوصـي سـکټور څلـور خونـې مکلفـې دي، ترڅـو د دواړو لوريـو ترمنـځ د سـتونزو د دايمي حـل لپـاره يـوه ګـډه دايمـي کاري کمېټـه رامنځتـه کـړي او د خصوصـي سـکټور پـه مالياتـي او ګمرکـي سـتونزو بحـث وکـړي او د نـه حـل کېـدو پـه صـورت کـې يـادې سـتونزې لـه مشـرانو سـره شـريکې کـړي.

۱۶- د کرنـې، اوبـو لګولـو او مالـدارۍ وزارت تـه دنـده وسـپارل شـوه، چـې د خصوصـي سـکټور پـه همـکارۍ د هېـواد پـه مختلفـو ولايتونـو کـې شـته سـړې خونـې فعالـې او د نويـو خونـو د ودانولـو پـه موخـه اقـدام وکـړي.

۱۷- د جوازونـو د توزيـع لپـاره د تجـارت او صنعـت وزارت لـه لـوري دې، د واحـد چتـر جـوړه شـوې طرحـه تائيـد او تطبيـق شـي.

۱۸-تجارانـو تـه د سـهولت او د وخـت د ضايـع کېـدو د مخنيـوي پـه موخـه د جوازونـو د معيـاري وېـش لپـاره دې د ماليـې، سـوداګرۍ او صنعـت وزارتونـو ترمنـځ برېښـنايي سيسـټمونه يـو لـه بلـه سـره وتـړل شـي.

۱۹- د کاري چټکتيـا او مراجعينـو تـه د اسـانتياوو پـه موخـه د ماليـې او سـوداګرۍ او صنعـت وزارتونـو ترمنـځ د مراسـلاتو د برېښـنايي کېـدو لپـاره مېکانېـزم جـوړ او عملـي شـي.

۲۰- د جوازونـو د وېـش لپـاره دې د متخصصينـو کمېټـه جـوړه شـي، چـې د سـوداګرۍ سـکټور پـه ګـډون هـر سـکټور تـه د جـواز تـر ورکولـو مخکـې د دوی ترتيـب شـوی سـوداګريز (بزنـس) پـلان وارزوي.

۲۱- د جـواز د ورکـړې پـه وخـت کـې د ماليـه ورکونکـې د پېژندنـې ګڼـه (TIN)د بنسـټ (شـرکت) پـه نامـه د اړيکـو فعالـه شـمېره، د بنسـټ پـه نامـه برېښـنايي پتـه، د بنسـټ پُسـتي او د دفتـر دقيقـې پتـې او د بنسـټ پـه نامـه ځانګـړی بانکـي حسـاب چـې يـوازې د بنسـټ يـا شـرکت پيسـې ورتـه راشـي (نـه غيرتجارتـي پيسـې) شـرط دی.

۲۲- د واقعـي تجارانـو د تثبيـت لپـاره د سـوداګرۍ جـواز تـر اخيسـتلو مخکـې اخيسـتونکی بايـد پنځـه سـوه زره (۵۰۰۰۰۰) افغانـۍ پـه بانکـي اکونـټ کـې د تضميـن پـه شـکل بـلاک کـړي.

۲۳- جعلـي جوازونـه چـې پـه هـره اداره (ګمرکونـو، مسـتوفيتونه او نـورو ادارو) کـې پيـدا شـول هلتـه دې قيـد او عامليـن دې عدلـي او قضايـي ارګانونـو تـه معرفـي شـي او کـه جوازونـه د تخلـف لپـاره کارېـدل، نـو جوازونـه او مالکيـن دې پـه تـور لېسـت کـې شـامل شـي، ترڅـو پـه راتلونکـي کـې د جوازونـو د ورکـړې حـق تـرې سـلب شـي او هـم دې عامليـن عدلـي او قضايـي ارګانونـو تـه معرفـي شـي.

۲۴- د مشـتريانو پېژندلـو(Know your customer) فورمـه، چـې پـه هغـه کـې د دواړو وزارتونـو مشـتريان، چـې جوازونـه يـې اخيسـتي او ماليـه ورکـوي لـه سـره را غوښـتل کېـږي او موجوديـت يـې تثبيتـږي؛ بايـد جـوړه او عملـي شـي.

۲۵- پـه ګمرکونـو کـې د اسـنادو د پړاوونـو ترسـره کولـو لپـاره يـو اسـتازی کـولای شـي حـد اکثـر د دريـو شـرکتونو اسـناد طـی مراحـل کـړي.

۲۶- پـه سـرعت سـره د جوازونـو د ورکـړې لپـاره دې د جـواز د ورکـړې پـه مرکـز کـې د احصايـې اداري تـه يـوه ځانګـه د برېښـنايي تذکـرو د جوړېـدو لپـاره ځانګـړې کـړای شـي، ترڅـو د احصايـې د اداري لـه لـوري د برېښـنايي تذکـرې د ورکـړې ځانګـه فعالـه شـي.

۲۷- د کرنـې، اوبـو لګولـو او مالـدارۍ وزارت بـه دوا پاشـل(Fumigation) اجبـاري نـه، بلکـې اختيـاري کـوي.

## افغانستان د ځان بسیاینې...

سـتر ويـاړ ګڼم تېر فاسـد نظام چې لـه بهرنيو مرسـتو برخمـن و پـه دې ونه توانېـده چې په دغسـې اسـاسي او بنيادي پـروژو کار وکړي برعکس د دغه رنګ پروژو لپاره ځانګړې شـوې پيسـې يې هم له ځان سره يوووړې،په هېواد کې يې هم د عامو وګړو شـتمنۍ او ځمکې غصب او د خپلـو ځانونو لپـاره بلډينګونه جوړکړل،د دوی له دغه ډول جناياتـو څرګندېږي چې دغه د دې هېـواد اصلـي واکمنـان نه بلـې د پرديو ګوډاګيـان وو،نـو معلومه شـوه چې اوسـني واکمن زموږ د هېواد او ملت رښـتيني بچيان او مالکان دي او ډېر ژر به که خدای (ج) غوښـتل افغانسـتان په خپل ځان بسيا او پرمختګ په لور خوځښـت پيل کړي او انشـاءالله ډېر ژر به په خپلو پښـو د دريدو توان ولـرو. د يوه ودان او پرمختللي افغانسـتان د جوړېدو په هيله

## ۲۹۵ زرافغانانو ته ...

کولی شي خپل کورونه ګرم کړي، روغتونونه فعاليت کولی شي اوسوداګريزې چارې هم ارزښتناکه کاري فرصتونو ته دوام ورکولی شي. د ملګرو ملتونو پراختيايي اداري ويلي، په دې برخه کې به خپلو هڅو ته دوام ورکړي. افغانسـتان سـره له دې چې د لسـګونو زره مېګاواټه برېښـنا د توليد طرفيت لري خو د اړتيا وړ ډېره برېښنا له بهره واردوي.

## کمک ۲ میلیون دالری بانک ...

به ۲ ميليون دالر گروپ بانک توسـعه اسلامی به صندوق امانی بشردوستانه افغانستان تشکر می‌کند.يونسيف از اين پول به منظور تامين آب پـاک برای ۳۲۰۰۰ نفر و درمان بيش از ۱۸۷۰۰ کودک مبتلا به سـوء تغذيه حاد شديد در روستاهای افغانستان اسـتفاده خواهند کرد.گفتنی است پيشتر يونيسف هشـدار داده بود که اگر بودجه برای تهيه غذای درمانی دريافت نکند ممکن است تعداد زيادی از کودکان مبتلا به سوء تغذيه در افغانستان جان بدهند.

## حملات توپخانه‌ای ...

غزه شليک شده است. اين موشک به سمت عسقلان شليک شده بود. يک منبع در اتاق عمليات مشترک گروههای مقاومت اما خبر داد که اين راکت به خاطر نقص فنی شـليک شده بود و مقاومت، به آتش‌بس پايبند است. پيش از اين نيز، «باراک راويد» خبرنگار و تحليلگر صهيونيست مدعی شـد که «وندی شرمن» معاون وزير خارجه امريکا از «ران درمر» وزير امور راهبردی و ديپلماسی عمومی رژيم صهيونيستی خواسته است که برای دستيابی به آتش بس فوری به منظور بازگرداندن آرامش و جلوگيری از تشـديد تنش تلاش کند.اين در حالی است که واشنگتن از زمان آغاز دور جديد تجاوز رژيم صهيونيسـتی به نوار غزه، اين تجاوز را محکوم نکرده است و حتی در کنار دولت انگليس از صدور بيانيه مطبوعاتی شورای امنيت در محکوميت تجاوز رژيم صهيونيستی به نوار غزه جلوگيری کرد.

بامداد سه‌شنبه هفته گذشته بود که ارتش رژيم صهيونيستی اعلام کرد که عمليات نظامی جديدی با نام «الدرع و السهم» (سپر و پيکان)، را عليه نوار غزه آغاز کرده و حملات به مواضع جنبش مقاومت جهاد اسـلامی برای سه روز ادامه خواهد داشت.در دومين روز تجاوز رژيم صهيونيستی به نوار غزه، اتاق مشترک گروه‌های مقاومت فلسطين از آغاز عمليات«ثأر الاحرار» (انتقام آزادگان) خبر داد و پاسخ راکتی و موشکی مقاومت آغاز شد. بر اسـاس جديدترين آمار از شمار قربانيان فلسطينی در دور جديد تجاوز صهيونيست‌ها به نوار غزه، ۳۳ نفر شهيد و ۱۴۷ نفر مجروح شده‌اند.

## بازداشت ۳۶ تن ...

ولايت کشور بازداشت نمودند.از اين ميان: پنج تن از کندز، سه سارق و سـه تن در پيوند به فسـاد اخلاقی از تخار، يک تـن در پيوند به قتل همراه با يک سارق از خوست، يک تن در پيوند به قاچاق ۲۰۰ کيلوگرام سـنگ‌های قيمتی از بولدک کندهار، دو سارق در پکتيا، ۱۳ تن در پيوند به سـرقت، قتل و ديگر جرايم از ولايت پکتيکا و يـک گروه پنج نفری از آدم ربايان در بلخ، بازداشت شدند. در همين حال، پوليس مبارزه با تروريزم ۲۹ ميل سلاح سبک و سنگين، هشت هزار فير مرمی مختلف النوع، سه دوربين شب و ديگر تجهيزات نظامی را از مربوطات ولسوالی پشت کوه ولايت فراه کشف و ضبط کردند.

## د اقلیمي بدلون له امله ...

بانډې ۴۷۹ ميليونه ډالرو ته اړتيا ده. د شـويو څېړنو د پايلو له مخې په دې وروستيو کلونو کې د افغانستان په ډېرو سيمو کې د تر ځمکې لاندې اوبو سطحه هم ډېره ټيټه شوې ده. د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې اسـتازولۍ تېره اونۍ په يوه ټويټ کې ويلي چې افغانسـتان د بشري بحرانونو او طبيعي پېښـو له اړخه په نړۍ کې له خطر سره مخ څلورم هېواد دی.

# خوارج له صدر اسلام څخه، بیا د نن تر دواعشو

**اتمه برخه - عبدالرحمن محمود**

د خوارجو موقف د خپلو مخالفینو پر وړاندې.
خوارج لـه خپلـو ټولـو مخالفینو څخـه برئت لازمي بولـي، برئت پـه دې معنـی چې بغض بـه ورسـره کـوي، بـد بـه ورتـه وایـي ، لعنت بـه پـر وایـي ، کـه مخالفیـن یـې کافـران وي ، یـا ګنهـکاره مؤمنـان ، یـا هغـه څـوک چـې د دوی د تـګلارې مخالـف وي ، اوسـنیوخوارجو خـو دا هـم پسـې اضافـه کـړه چـې کـوم څـوک د دوی امیـر تـه بیعـت نـه لـري هغـه هـم مرتـد او واجـب القتـل دی.
د خوارجـو پـه نـزد لـه دې ټولـو برئـت ضـروري دی ، د دې برئـت مقتضیٰ نـو بیـا داده چـې ډېـر مؤمنـان لـه ملتـه وباسـي، او مبـاح الـدم یـې وبولـي.
قدیـم خـوارج د حضـرت عثمـان رض خلافـت منـي، خـو فقـط د هغـه د خلافـت پـه لومـړي شپږ کلونـو کـې یـې منـي ، وروسـته یـې بیـا کافـر بولـي العیـاذ باللـه.
همـدا ډول د حضـرت علـي رضـي اللـه عنـه خلافـت منـي، خـو تـر هغـه وختـه چـې د حضـرت معاویـة رضـي اللـه عنـه سـره یـې د اختـلاف ختمولـو لپـاره دریمګـړی وټاکـه لکـه مخکـې چـې یـې تفصیـل بیـان شـوی ، وروسـته تـر هغـه بیـا کافـر شـو ، العیاذباللـه.
د خوارجـو یـو شـاعر عمـران بـن حطـان د هغـه ابـن ملجـم شـقي پـه اړه وایـي چـې حضـرت علـي رض یـې پـه شـهادت رسـولی وو.
(یا ضربة من تقي ما اراد بها الا لیبلغ من ذي العرش رضوانا)
ای د نیـک انسـان ګـذاره ، چـې پـه هغـه ګـذار سـره یـې هـدف یوائـې د مالـک العـرش جـل جلالـه رضـاء وه.
عـروة بـن ادیـة لومـړی بهرنـی و،چـې تـوره یـې د خپـل باطـل مذهـب د ملاتـړ او دفـاع لپـاره را و ایسـتل ، هغـه د نهـروان لـه جنګـه ژونـدی ووت ، زیـاد بـن عبیـد تـه حاضـر شـو ، هغـه ورتـه وویـل پـه ابوبکـر او عمـر کـې څـه وایـې ؟ د هغـو پـه اړه یـې ښـه وویـل ، بیـا یـې د حضـرت عثمـان او حضـرت علـي رضـي اللـه عنهمـا پـه اړه پوښـتنه ورڅخـه وکـړه ، ده خارجـي پـه ځـواب کـې ورتـه وویـل: عثمـان د خپـل خلافـت پـه لومړیـو شـپږو کلونـو کـې خلیفـه و ، بیـا وروسـته کافـر شـو او علـي هغـه وخـت کافـر شـو چـې لـه معاویـه سـره یـې د مخالفـت ختمولـو لپـاره دریمګـړی وټاکـه، العیاذباللـه.
بیـا یـې د حضـرت معاویـه رضـي اللـه عنـه پـه اړه پوښـتنه ورڅخـه وکـړه ، دې ظالـم خارجـي و هغـه تـه هـم ډېـر بـد او رد وویـل.
عبدالقاهـر بـن طاهـر البغـدادي پـه «الفـرق بیـن الفِـرق» کـې را نقـل کـړي چـې خوارجـو پـر تکفیـر د حضـرت عثمـان او علـي او د جنـګ جمـل پـر شـریکانو او د حضـرت علـي رض او معاویـة رض پـر دریمګـړو ، او د دریمګـړو پـه ټاکلـو چـې څـوک خوښ و، د دې ټولـو پـر تکفیـر یـې اجمـاع کـړې.
امـام شهرسـتاني لیکـي( ویجمعهـم القـول بالتبـري مـن عثمـان و علـي و یقدمـون ذلـك علـی کل طاعـة، ولا یصححـون المناکحـات الا علـی ذلـك)
د دوی ټولـو پـر برئـت لـه حضـرت عثمـان او علـي څخـه اجمـاع ده او لـه دوی برئـت پـر ټولـو عباداتـو مقـدم بولـي او چـې څـوک پـه دغـه عقیـده نـوي نـکاح ورسـره روا نـه بولـي. العیاذباللـه.
همـدا ډول دوی خپـل ټـول مخالفیـن کفـار او لـه ملـت څخـه خـارج بولـي ، بلکـې «نافـع بـن الازرق الخارجـي» ټـول هغـه خلـک کفـار بلـل چـې ده تـه یـې هجـرت نـه کاوه، پـه همـدې باطلـي عقیـدې خوارجـو د ډېـرو مسـلمانانو معصومـې وینـې تویـې کـړې.
امـام طبـري د شـپږ اتیایـم کال د احداثـو او واقعاتـو پـه اړه لیکـي، خـوارج یـادوي( یقتلـون الولـدان والنسـاء والرجـال و یبقـرون الحبالـی) ماشـومان ، ښـځې، سـړې یـې وژل ، د حمـل لرونکـو مېرمنـو خیټـې یـې څیرلـې.
ابـن الاثیـر لیکـي: خوارجـو د سـماک پـه نـوم یـو کـس ونیـوه، لـور یـې ورسـره وه ، چـې کلـه یـې واژه لـور یـې دې خوارجـو تـه وویـل: یـا اهـل الاسـلام! پـلار مـې مریـض دی، زه یـوه داسـې نجلـۍ یـم چـې پـه رب جـل جلالـه قسـم فاحـش عمـل مـې نـه دی کـړی، او نـه مـې ګاونـډی زهیـر کـړی، نـه مـې چاتـه کتلـي او نـه مـې د بـدۍ اراده کـړې، خـو خوارجـو بیـا هـم پـرې نـه ښـودل ، چـې کلـه یـې دا وژل د دوی د لـه وار مخکـې هغـه مـړه را پرېوتـل ، بیـا یـې پـه تـوره د هغـې لاسـونه او پښـې ورڅخـه قطـع کړې.خلاصـه دا چـې د خوارجـو د ظلـم او وحشـت تفصیـلات او جزئیـات دومـره زیـات دي چـې مسـتقل کتابونـه پـرې لیـکل کیـدای شـي، لارفـع اللـه لهـم رایـة، رب جـل جلالـه دې د دوی بیـرغ نـه پورتـه کـوي. امیـن
خوارج د کفارو په مقابل کې... نور بیا



# هند او عمان کې د افغان سفارتونو وضعیت او د بهرنیو چارو وزارت اقدامات

**رحمت الله فیضان**



پـه هنـد کـې د میشـتو افغـان کډوالـو اسـتازو پـه دغـه هیـواد کـې د افغانسـتان پـر سـفیر فریـد مامونـدزي، د دې سـفارت پـر مالـي او اداري مسـوول ضیاءاللـه هاشـمي او د سیاسـي برخـې پـر مسـوول ابراهیـم شـکیب ایـازي بانـدې د مالي او اداري فسـاد ، اختـلاس لـه املـه عریضـه وکـړه چـې پـه دې عریضـه کـې د بهرنیـو چـارو وزارت تـه لیـکل شـوي :
پـه هنـد کـې افغـان سـفیر فریـد مامونـدزي، ضیاءاللـه هاشـمي او ابراهیـم شـکیب ایـازي لهخـوا «پـه غیـر قانونـي او د ډیپلوماټیکـو ارزښـتونو خـلاف د سـفارت دوه تعمیرونـه چـې شـپږ اپارټمانونـه کېـږي او د چمـن پـه نـوم یـوه ازاده سـاحه چـې د نیـم جریـب پـه محـدوده کـې ځمکـه راځـي، یـوه هنـدي شـرکت تـه لـه هـر ډول قانونـي پروسـې، د مرکـز لـه اجـازې او هدایـت پرتـه پـه اجـارې ورکـړې ده.»
همـدراز راغلـي چـې «دې قـرارداد شـاوخوا ۱۰ میاشـتې دوام وکـړ، خـو وروسـته پـه هنـد کـې د میشـتو افغانانـو لـه فشـار سـره مـخ شـول او لـه هنـدي شـرکت سـره یـې بالاخـره قضیه رامنځتـه شـوه.»د عـرض پاڼـې لـه مخـې، «دا مهـال هنـدي شـرکت پـر فریـد مامونـدزي او ضیاءاللـه هاشـمي د هنـد پـه محاکمـو کـې د دوه نیـم کـروړه هنـدۍ کلـدارو د جعـل او فسـاد دعـوه کـړې او د هنـدي شـرکت پـلان دا دي چـې وروسـته د څـو کلونـو لـه تېرېـدو څخـه د هنـد د محاکمـو د پرېکـړې پـر اسـاس شـاوخوا نیـم جریـب چمـن چـې میلیونونـه ډالـره ارزښـت لـري، پهخپـل نـوم کـړي.»
پـه هنـد کـې د میشـتو افغانانـو د عریضـې پـه غبرګـون کـې د بهرنیـو چـارو وزارت اړ شـوی چـې فریـد مامونـدزي لـه دندې ګوښـه او پـر ځـای یـې قـادر شـاه د سـفارت د سرپرسـت پـه توګـه و ټاکـي .داسـې ویـل کېـږي چـې کلـه د افغانسـتان پخوانـي سـفیر مامونـدزي د بهرنیـو چـارو وزارت لـه لـوري لـه دنـدې ګوښـه کېـږي دا مهـال نومـوړی پـه لنـدن کـې پـر رخصتـي وتلـی و ، مامونـدزي یـې هڅـه وکـړه چـې بېرتـه هنـد تـه وګرځـي خـو هنـدي پولیسـو تـر پنځـو ورځـو پورې اجـازه ور نـه کـړه ؛ کلـه چـې هنـد تـه لاړ بیـا یـې هڅـه وکـړه چـې نـوي ټاکل شـوي سرپرسـت سـفیر قادرشـاه خپـل دفتر تـه پرېنـږدي بیـا هـم هنـدي پولیسـو مداخلـه کـړي او د هنـد د بهرنیـو چـارو وزارت ورتـه ویلـي چـې نـوره یـې دنـده پـای تـه رسـېدلي او لـه هنـده بایـد ووزي .
اخـوا تـه بیـا د بهرنیـو چـارو وزارت د مطبوعاتـي څانګـي مرسـتیال پـه یـوه غږیـزه خبرتیـا کـې د عمـان پـه سـلطنت کـې میشـتو افغانانـو تـه خبـر ورکـړي چـې پـه عمـان کـې د افغانسـتان پخوانـي سـفیر قـدم شـاه شـهیم لـه دې وروسـته د سـفیر پـه توګـه دنـده نـه شـي تـر سـره کولـی او نومـوړي، د ا.ا.ا لـه لـوري یـې وظیفـه پای تـه رسـېدلي او لـه دیپلوماتیک اړخـه نـور نـه شـي کولـی چـې د سـفیر پـه توګـه پـه عمـان کـې دنـده تـر سـره کـړي .ښـاغلي تـکل پـه عمـان کـې لـه میشـو افغانانـو غوښـتي چـې لـه قـدم شـاه شـهیم سـره نـور پـه رسـمي چـارو کـې مرسـته ونـه کـړي او نـه هـم مرسـته تـرې وغـواړي . د بهرنیـو چـارو وزارت مرسـتیال ویانـد پـه خپلـه اعلامیـه کـې دا هـم زیاتـه کـړې چـې : ا.ا لـه فسـاد سـره د مبـارزې پـه برخـه کـې ډېـر جـدي دي او د بهرنیـو چـارو وزارت هیڅـا تـه اجـازه نـه ورکـوي چـې لـه سیاسـي اسـتازولیو د ځـان پـه ګټـه د شـخصي جیـب لپـاره ګټـه پورتـه کـړي.بـل لـور تـه د افغانسـتان د بهرنیـو چـارو وزارت پـه یـوه بـل تـازه اقـدام کـې پـه اتریـش کـې د جمهوریـت د وخـت د سـفیري منیـژه باختـري ، پـه کویـت د افغانسـتان د سـفارت سـفیر سـید جاویـد هاشـمي او پـه عمـان کـې د افغانسـتان د سـفیر قـدم شـاه شـهیم سیاسـي پاسـپورتونه باطـل او د نـه بـاور وړ اعـلان کـړي ، د دې ترڅنـګ د بهرنیـو چـارو وزارت د یـو متحدالمـال مکتـوب لـه لارې چـې خپلـو سیاسـي نماینده‌ګیـو تـه یـې صـادر کـړي وایـي: د افغانسـتان سیاسـي پاسـپورت پنځـه کالـه وخـت لـري کلـه چـې یـې وخـت ختـم شـي د تمدیـد قابلیـت نـه لـري نـو پـه دې اسـاس ټولـو نماینده‌ګیـو تـه خبـر ور کـول کېـږي چـې د سیاسـي پاسـپورتونو لـه تمدیـده ډډه وکـړي .د بهرنیـو چـارو وزارت پـه بهـر کـې خپلـو سیاسـي اسـتازولیو تـه نـږدې دوه کالـه وخـت ورکـړ تـر څـو پـه خپلـه تـګلاره کـې بدلـون را ولـي او پـه بهـر کـې د افغانسـتان سیاسـي نماینده‌ګـۍ لـه مرکـز سـره وصـل کـړي خـو داسـې مالومېـږي چـې لـه افغانسـتانه بهـر د سیاسـي نماینده‌ګیـو جمهوریـت پلـوه ډیپلوماټـان نـه غـواړي چـې د افغانسـتان سیاسـي نماینده‌ګـۍ لـه خپـل هیـواد څخـه دسـتور تـر لاسـه کـړي اوس داسـې مالومېـږي چـې د بهرنیـو چـارو وزارت د رهبـرۍ هیئـت حوصلـه نـوره ختمـه شـوې او غـواړي د جـدي اقداماتـو لـه لارې پـه بهـر کـې د افغانسـتان سیاسـي نماینده‌ګـي لـه مرکـز سـره پینـه کـړي .

# مبارزه با پولیو مسوولیت ملی وبین المللی ماست

**مبصر آژانس باختر**



برنامـه فـوق العـاده واکسـین پولیو امـروز در کشـور آغاز شـد، در ایـن دور ۶ اعشـاریه ۴ میلیـون کودک در ۲۳ ولایت کشـور در براب‍ـر پولیـو واکسـین خواهنـد شـد.مبصر آژانـس باختـر مینـگارد؛ وزارت صحـت عامـه در همـکاری نهـاد هـای بیـن المللـی بعـد از آن تصمیـم بـه راه انـدازی برنامـه فـوق العـاده واکسـین پولیـو در کشـور گرفتنـد کـه یـک واقعـه مثبـت از بیمـاری پولیـو در ولسـوالی بتی کـوت ننگرهاربه ثبت رسـیده اسـت.مرض فلـج کـودکان کـه توانایـی حرکـت را از انسـان می‌گیـرد، توسـط یـک ویـروس خـاص ایجـاد می‌شـود و معمـولاً کـودکان زیـر پنـج سـال را مبتـلا می‌سـازد، امـا در برخـی مـوارد ممکـن اسـت بزرگسـالان را نیـز مبتـلا سـازد.
ایـن مـرض یـک مـرض ویروسـی شـمرده شـده کـه سـبب آسـیب‌های عصبـی در کـودکان می‌شـود و در نتیجـه اختلالاتـی ماننـد فلـج، مشـکلات تنفسـی و غیـره در بـدن مریـض ایجـاد می‌کنـد و حتـی سـبب مـرگ وی می‌شـود.
برنامـه واکسـین پولیـو در حالـی بار دیگـر در کشـور راه اندازی شـده اسـت کـه افغانسـتان خـود را بـه یـک قدمی محـوی این بیمـاری رسـانده اسـت مگـر وقایـع اخیـر نشـان میدهـد کـه نبایـد راه احتیـاط را از دسـت داد بـل بـرای محـوی کامـل ایـن بیمـاری بایـد بـا تدبیـر بیشـتر عمـل کرد.
در گام نخسـت نیـاز اسـت کـه عوامـل وخلاهـا در برنامـه هـای واکسـین پولیـو بررسـی شـود در ایـن جـای نیسـت کـه نهـاد هـای دولتـی و نهـاد هـای کمـک کننـده کار شـان را بـه دقـت انجـام داده انـد؛ مگـر مشـکلات محیطـی باعـث شـده اسـت کـه برنامـه هـای وقایـوی در برابـر پولیـو درسـت عملی نشـود، عـدم دسترسـی بـه مراکـز صحـی، عـدم آگاهـی خانواده‌هـا از مزایـای واکسـین پولیـو و پـاره از مشـکلات محیطـی ومنطقـه یـی رفـت وآمـد مهاجریـن در دو طـرف خـط دیورنـد کـه امـکان انتقـال ویـروس پولیـورا حتمـی میکنـد... میتواننـد مـواردی باشـند کـه مبـارزه بـا پولیـو را در افغانسـتان زمانبـر سـاخته اسـت.
سـاری بـودن پولیـو واینکـه ایـن بیمـاری به جـز از افغانسـتان و پاکسـتان در نقـاط دیگـر جهـان نابـود شـده اسـت، باعـث شـده اسـت کـه افغانسـتان و پاکسـتان در تمرکـز سـازمان صحـی جهـان باشـند.
از دیـد سـازمان صحی جهان و سـازمان یونیسـف؛ هـر اتفاقی کـه در افغانسـتان وپاکسـتان بیفتـد، روی اهـداف جهانـی این دو نهـاد تأثیـر می‌گـذارد، یعنـی خطـر شـیوع دوبـاره ایـن بیمـاری بـه کشـورهای دیگـر همچنـان وجـود خواهـد داشـت، زیـرا بیماری‌هـای عفونـی مرزهـای جغرافیـای و انسـانی را نمی‌شناسـند.
از دیـد ایـن دو سـازمان جهانـی تـا زمانـی کـه حتـی یـک کـودک مبتـلا بـه ویـروس فلـج اطفـال وجـود داشـته باشـد، کـودکان در همـه کشـورها در معـرض ابتـلا بـه ایـن بیمـاری قـرار دارنـد، ایـن دو نهـاد جـدا تاکیـد دارنـد کـه در شـرایط اضطـراری هـم بایـد بـه پولیـو رسـید و خطـر ابتـلا کـودکان بـه ایـن بیمـاری را بایـد از میـان برداشـت.
ایـن نمایانگـر آن اسـت کـه پولیـو تنهـا یـک خطـر در برابـر کـودکان افغـان نیسـت، فراتـر از آن خطـر ابتلا وشـیوع مجدد آن وجـود دارد چـه خـوب اسـت کـه بـرای محـوی ایـن بیمـاری مسـئولانه تـر فکـر کنیـم، منابـر، مسـاجد، مکاتب، رسـانه هـا، بـزرگان قومـی... در ایـن خصـوص بیشـتر فعال شـوند تـا بـار ایـن بیمـاری از افغانسـتان برداشـته شـود و خطـر شـیوع مجـدد آن از افغانسـتان بـه کشـور هـای دیگـر هـم از میـان رود تـا در آینـده از قضـاوت نادرسـتی بـه آدرس افغانسـتان جلوگیـری شـود.
نیـاز اسـت هر شـهروند افغانسـتان و هـر نهاد حکومتـی برای محـو پولیوبیشـتر تـلاش کننـد ومبـارزه بـا ایـن ناهنجـاری صحـی را یـک وجیبـه دینـی ومیهنـی بداننـد.

## شعر و ادب

# غزل

**حضرت عطار (رح)**


خواجه تا چند حساب زر و دینار کنی
سود و سرمایهٔ دین بر سر بازار کنی
شب عمرت بشد و صبح اجل نزدیک است
خویشتن را گه آن نیست که بیدار کنی
چیست این عجب و تفاخر به جهان ساکن باش
چند با صد من و من سیم و زر اظهار کنی
پنج روزی همه کامی ز جهان حاصل گیر
عاقبت هم سر پر کبر نگونسار کنی
آن نه کام است که ناکام بجا بگذری
وان نه برگ است که بر جان خودش بار کنی
جمع تو بار گنه باشد و دیوان سیاه
نه هم آخر تو خوشی نام سیه بار کنی
چون همی دانی کت خانه لحد خواهد بود
خانه را نقش چرا بر در و دیوار کنی
سهو کارا به تک خاک همی باید خفت
طاق و ایوان به چه تا گنبد دوار کنی
مرگ در پیش و حساب از پس و دوزخ در راه
به چه شادی خرفا خندهٔ بسیار کنی
تو که بر روبه مسکین بدری پوست چو سگ
عنکبوتانه کجا پردهٔ احرار کنی
این همه دانی و کارت همه بی وجه بود
خود ستم کم کن اگر منع ستمکار کنی
به فصاحت ببری گوی ز میدان سخن
لیک خود را به ستم بیهده رهوار کنی
خویش و همسایهٔ تو گرسنه وز پر طمعی
نفروشی به کسی غله در انبار کنی
جامه در تنگ و دلت تنگ و در اندیشهٔ آن
تا دگر ره ز کجا جامه و دستار کنی
بر ضعیفان نکنی رحم به یک قرص جوین
وانگه از ناز به مرغ و بره پروار کنی
مستراحی است جهان و اهل جهان کناسند
به تعزز سزد ار در همه نظار کنی
نافه داری بر هر خشک دمانی مگشا
اول آن به که طلبکاری عطار کنی

***

هر نفسی شور عشق در دو جهان افکنی
آتش سودای خویش در دل و جان افکنی
جان و دل خسته را ز آرزوی خویشتن
گه به خروش آوری گه به فغان افکنی
گر به سر کوی خویش پردهٔ عشاق را
گل کنی از خاک و خون کار به جان افکنی
گر بگشایی ز بند گوهر دریای عشق
بی دل و جان صد هزار سر عیان افکنی
هر نفسی روی خویش باز بپوشی به زلف
تا دل عطار را در خفقان افکنی

# مور او هغې حقوق!

**خالد مشعل**



